



د قرآن کریم د حفظ

# پنځه کلاګاني

چمتوکوونکی
د/ سعید ابو العلاء أحمد حمزه

ژباړه: منبر خپرونو اداره

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

«تَعَاهَدُوا الْقُرْآنَ، فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَهُوَ أَشَدُّ تَفَصِّيًا مِنَ الإِبِلِ فِي عُقُلِهَا» صحيح البخاري

ژباړه: د قرآن کريم د لوستلو پابندي وکړئ او په دوامداره ډول يې ولولئ، زما دې پر هغه ذات قسم وي چې زما نفس يې په لاس کې دی؛ قرآن کريم تر هغو اوښانو زيات تښتېدونکی دی، چې له خپلو رسيو پرانستل شوي وي».



(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

سریزه........................................................................ ۴
د قرآن کریم په حفظ کې د پنځو کلاګانو طریقه......... ۶
لومړی کلا.................................................................... ۷
دویمه کلا.................................................................... ۸
دریمه کلا.................................................................... ۹
خلورمه کلا.................................................................. ۱۰
لومړی بېلګه................................................................ ۱۲
دویمه بېلګه................................................................ ۱۳
دریمه بېلګه................................................................ ۱۴
خلورمه بېلګه.............................................................. ۱۵
پنځمه بېلګه.............................................................. ۱۶
شپږمه بېلګه.............................................................. ۱۷
د حفظ او مراجعې یا ګردان مهال ویش........................ ۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

الحمدلله والصلاه والسلام علی رسول الله وبعد:

دغه څو پاڼې د قرآن کریم د حفظ د طریقې لنډه شرحه ده، د دې طریقې بنسټ د پنځو کلاګانو (پړاوونو) په نظریه ایښودل شوی دی، غواړم چې خپل ورونو پرې ګټمن کړم؛ تر څو د الله تعالی په توفیق سره په لنډ وخت کې د حفظ د کوټلتیا او پخوالی لوړو پوړیو ته ورسېږي. د دې طریقې بنسټ د رسول الله ﷺ د سنت دا امر دی چې فرمايي: «تَعَاهَدُوا القُرْآنَ» [صحیح بخاري]. ما د دې طریقې شرحه په یوه پوره دوره کې کړې ده چې نوم یې (د قرآن کریم د حفظ رازونه او نوښت) و. دا طریقه ما په خپله تدریس کړې هم ده چې بېلابېل عمر لرونکو وګړو ته یې د الله تعالی په توفیق سره په لنډ وخت کې ډېره ښه ګټه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوستونکی باید پر دې خبره پوه وي؛ د دې لپاره چې د حفظ دا طریقه بریالۍ شي، نو د روغ حفظ په اصولو، ارکانو او قاعدو علم ضروري او اړین دی، دغه راز د قرآن کریم د مراجعې د ارکانو او فنونو په اړه هم، خو د عملونو لپاره د توفیق او قبولیت د ټولو بنسټونو بنسټ اخلاص دی. د قرآن کریم د حفظ په اړه ما په خپل کتاب (د قرآن کریم د حفظ رازونه او نوښت) کې تفصیلي خبره کړې ده، هلته مې له قرآن کریم او نبوي سنت څخه دلایل راوړي دي، ور سره د قرآن کریم د حافظانو عالمانو زرینې ویناوې دي، دغه راز په دې تړاو د پخوانیو نېکانو د لوړ همت ښکلې او زړه راښکونکې، حیرانوونکې کیسې او د هغوی مفکورې او وصیتونه دي؛ ما په ډېر غوره انداز او په ښکلې بڼه په یو کوچني کتاب کې راجمع کړي دي. که کوم عیب په کې و، نو هغه به زما له خوا وي، الله تعالی دې ما او تا ته بښنه وکړي او الله تعالی دې موږ له تېروتنو وساتي. امین.

له الله تعالی غواړم چې ما ته اخلاص را په برخه کړي، دغه کار ته د قبولتیا جامه ور واغوندي او په هر ځای او زمانه کې دې پرې مسلمانانو ته ګټه ور ورسوي.

وصل اللهم علی محمد وآله وصحبه وقارئ القرآن ومحبه وسلم.

د الله تعالی بښنې ته محتاج


سعید ابو العلاء حمزه



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قرآن کریم په حفظ کې د پنځو کلاګانو طریقه



(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړی کلا

دوامداره تلاوت او میتودي (منهجي) اورېدنه (میاشتنی تیاری).

دا تلاوت به هره ورځ د دوو سپارو لوستلو په بڼه وي، یعنې هر پنځلس ورځې یو ختم. په کار ده چې د دواړو سپارو د لوستلو لپاره مجموعي وخت له (۴۰) دقیقو زیات نه وي، که یو ځای یې لولې او که بېل بېل، که څوک له دې هم تېز تلاوت کوي او د تجوید د احکامو پاملرنه کولی شي، نو باید یو سپاره لږ تر لږه په (۱۵) دقیقو کې سر ته ورسوي. که څوک هره ورځ دوې سپارې نه شي ویلی، یوه سپاره دې تلاوت کړي، یعنې په هره میاشت کې دې یو ختم وکړي، خو زه په خپله هغه چا ته د یوې سپارې وصیت او سپارښتنه نه کوم چې کوتلی او پوخ حفظ کول غواړي. والله المستعان.

### منهجي اورېدنه

باید هره ورځ له یو بشپړ لوستل شوي تلاوت څخه لږ تر لږه نیمه سپاره واورېدل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویمه کلا
## تیاری (دا د قرآن کریم د حفظ غښتلې کلا ده) چې په لاندې ډول دی

**اوونيز تياری** هغه داسې چې په راتلونکې اونۍ کې د حفظ لپاره ټاکلې برخه هره ورځ یو ځل ولوستل شي، د بېلګې په توګه هره ورځ هغه اووه مخونه تلاوتول چې د رواني اونۍ په حفظ پسې يې د حفظ نوبت راځي. که چېرته اونۍ د شنبې له ورځې پیل او د جمعې پر ورځ يې پای ته ورسوو، په داسې حال کې چې ته هره ورځ یو مخ حفظ کوې، نو که ته د رواني اونۍ د شنبې په ورځ په ۸ مخ کې وې د اونۍ تر پايه به ان شاء الله ۱۴ مخ ته ورسېږې چې اووه مخونه کېږي، نو پر دغه یو یو مخ حفظ سربېره به د راتلونکې اونۍ لپاره هره ورځ له ۱۵ څخه تر ۲۲ مخ پورې (اووه مخه) تلاوت کوې چې دغه اووه مخونه به بیا له راتلونکې شنبې څخه تر بلې جمعې پورې حفظ کېږي. باذن الله.

**د شپې تياری** دا تیاری به له حفظ څخه په مخکې شپه کې کېږي. په دې شپه به هغه مخ ۱۵ دقیقې تکراروې چې سهار يې حفظوې او دا کار به له خوب څخه وړاندې کوې. تر دې مخکې به يې له خورا زياتې توجه سره د فضيلة الشيخ محمد صديق منشاوي رحمه الله په غږ اورې، هغه هم د ۱۵ دقیقو لپاره یا لږ تر لږه لس وارې.

**وړاندينی تياری** په دې پړاو کې به له مخامخ حفظ څخه وړاندې د هغه مخ تلاوت په حدر طریقه کوې چې لږ وروسته يې د حفظ اراده لرې، دا به د ۱۵ دقیقو لپاره یا نږدې ۱۵ وارې تکراروې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نوی درس یا حفظ



له موږ سره په دې پروګرام کې هره ورځ یوه صفحه یا مخ نوی درس د بېلګې په توګه ځای پر ځای شوی دی. دغه یوه صفحه په ۱۵ دقیقو کې حفظ کېږي باذن الله، دا هغه مهال چې د حفظ ۲۷ ارکان په کې تطبیق کړې او له تېروتنو ځان وساتې.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره زموږ هغه کتاب وګوره چې یادونه یې په سریزه کې شوې ده، (اوس د تیارۍ په پړاو کې دی او نږدې به چاپ شي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلورمه کلا

## د نږدې حفظ ګردان

د دغه پړاو انځور داسې دی: د ورځني نوي حفظ له مخ سره نښتي شاته شل مخونه نږدې ګردان بلل کېږي. دغه نږدې ګردان مخونه به هره ورځ یو ځل تکراروي، د بېلګې په توګه که ته هره ورځ یو مخ حفظ کوې نو سبا به هغه تکراروې، بله ورځ دوه ان تر دې چې شمېر یې شلو مخونو ته ورسېږي، یعنې یوه سپاره شي، دا به هره ورځ یو ځل تکراروې، دا نږدې ۲۰ دقیقې وخت نیسي، خو دا هغه مهال چې په منظم ډول ګردان کوې، ناراستې او لټې نه کوې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه وصیت در ته تل یاد وي: «تَعَاهَدُوا الْقُرّآنَ». (د حفظ په مخ پسې شاته ترلې شل مخونه ستا نږدې ګردان دی او څومره چې مخکې ځې او له شاته شلو مخونو څخه چې کوم مخونه پاتې کېږي، هغه ستا لرې ګردان دی چې تفصیل یې وروسته راځي).

### یادونه

د ګردان او مراجعې پر مهال د تلاوت مرتبه (حدر) دی، زمونږ په ښوونې طریقه کې به د ګردان پر مهال د ترتیل او تحقیق په مرتبو تلاوت نه کوې، ځکه د هر وخت لپاره خپله خبره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځمه کلا

## د لرې حفظ ګردان (د خانو طريقه)

په دې برخه کې به د هغو حفظ شويو مخونو ګردان کوې چې د حفظ په مخ پورې له تېرلو شلو مخونو څخه شاته وي، دا به ورو ورو زياتېږي او هره اونۍ به يې يو ځل ګردانوې، د بېلګې په توګه تا پنځه ويشت مخونه حفظ کړل، نو ستا په حفظ پورې له تېرلو شاته شل مخونو مخکې چې کوم پنځه مخونه دي، هغه به هره شنبه ګردانوې. بيا هره اونۍ اووه مخونه زياتېږي (ځکه چې که هره ورځ يو مخ حفظ کوې نو د ټولې اونۍ اووه مخونه جوړېږي)، نو په راتلونکې شنبې به د لرې ګردان اندازه ۱۲ مخونه وي (ځکه پنځه مخونه هغه مهال وو چې تا ۲۵ مخونه ياد کړي وو، خو اوس چې ټوله اونۍ تېره شوه، نو ستا د حفظ اندازه به ۳۲ مخونو ته رسېدلې وي، په دغو کې به له شاته لومړنيو شلو مخونو مخکې ټول مخونه د شنبې په ورځ ګردانوې چې ۱۲ کېږي). دا اووه اووه مخونه به هره شنبه لرې ګردان ته ور زياتوې، تر هغه پورې به همداسې چلېږي چې د شنبې د ورځې دغه لرې ګردان ۴۰ مخونو ته ورسېږي (يعنې د ملک فهد چاپ په مصحف کې دوه سپارې شي)، نو د شنبې ورځ لومړۍ خانه شوه او ډکه شوه. بيا به په دويمه خانه ډکولو پيل کوو يعنې د يکشنبې ورځ (هره شنبه به دغه ۴۰ مخونه ګرادنوې او نور اضافي مخونه به د يکشنبې په ورځ کې ګردانوې)، په هغې کې به هم ورو ورو مخونه زياتېږي تر دې چې ۴۰ مخونو ته ورسېږي (بيا به نور اضافي مخونه د دوشنبې ورځې ته ور زياتوې). په دې ډول به د اونۍ ټولې خانې يا ورځې له لرې ګردان څخه ډکې شي. دغه اندازه مخونه ګردانول به ډېر زيات اسان وي، ځکه د لرې ګردان پړاو ته له رسېدو وړاندې به د تيارۍ، حفظ او نږدې ګردان له پړاوونو تېر شوي وي. نو د الله تعالی څخه پرې مرسته وغواړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرانه زده کوونکیه اوس یو شمیر بیلګې وړاندې کوو، تر څو درته د رسول الله ﷺ د «تَعَاهَدُوا القُرآنَ» وینا پر بنسټ د جوړې طریقې د عملي کولو څرنګوالی په ډاګه کړو.

## لومړی بېلګه

د هغه کس ورځ چې څلور مخونه یې حفظ کړي وي او اوس پنځم مخ حفظ کوي:

١ وړاندینی تیاری: پنځم مخ څو ځله تلاوتول (١٥ دقیقې).

٢ حفظ: د پنځم مخ حفظ (١٥ دقیقې).

٣ د نږدې حفظ ګردان: د ۴ حفظ شویو مخونو ګردان (۴ دقیقې)؛ له ١ څخه تر ۴ مخ پورې.

۴ د لرې حفظ ګردان: په دې پړاو کې لا لرې ګردان نه شته. (صفر مخ).

۵ اونیز تیاری: هغه اووه مخونه تلاوتول چې له روان حفظ وروسته په بله اونۍ کې راځي. (١٠ دقیقې).

۶ میاشتنی تیاری (روان تلاوت): هره ورځ دوې سپارې تلاوت کول، (که په حدر کې ډېر وخت واخلي نو ۴٠ دقیقې به واخلي).

٧ د شپې تیاری: شپږم مخ تکراري تلاوتول (١٥ دقیقې)، که شونې وي نو همدغه مخ (١٠ واري یا ١٠ دقیقې اورېدل).

په دې ورځ باندې مطلوبه وخت: ١٠٩ دقیقې دي (چې دغه وخت په توله ورځ او د لمانځه په وختونو ویشل شوی دی).

آیا یو بنده چې په ورځ کې ١۴۴٠ دقیقې وخت لري دومره نه شي کولی چې یوازې ١٠٩ دقیقې په کې قرآن کریم ته ځانګړې کړي؟!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویمه بېلګه

د هغه چا ورځ چې ۲۰ مخونه يې حفظ کړي وي او اوس يوويشتم مخ حفظ کوي:

① وړاندېنۍ تیارۍ: د ۲۱ مخ څو ځله تلاوتول (۱۵ دقیقې).
② حفظ: د ۲۱ مخ حفظ (۱۵ دقیقې).
③ د نږدې حفظ ګردان: د هغو ۲۰ حفظ شویو مخونو ګردان چې په نوي حفظ شوي مخ پورې شاته تړلي وي (۲۰ دقیقې)؛ له ۱ مخ څخه تر ۲۰ مخ پورې.
④ د لرې حفظ ګردان: په دې مرحله کې لا لرې ګردان نه شته (صفر مخ).
⑤ اونیز تیارۍ: هغه اووه مخونه تلاوتول چې له روان حفظ وروسته په بله اونۍ کې راځي (۱۰ دقیقې).
⑥ میاشتنۍ تیارۍ (روان تلاوت): هره ورځ دوې سپارې تلاوت کول، (که په حدر کې ډېر وخت واخلي نو ۴۰ دقیقې به واخلي).
⑦ د شپې تیارۍ: ۲۲ مخ تکراري تلاوتول (۱۵ دقیقې)، که شونې وي همدغه مخ (۱۰ وارې یا ۱۰ دقیقې اورېدل).

په دې ورځ باندې مطلوبه وخت: ۱۲۵ دقیقې دي (چې دغه وخت په ټوله ورځ او د لمانځه په وختونو ویشل شوی دی).

آیا یو بنده چې په ورځ کې ۱۴۴۰ دقیقې وخت لري دومره نه شي کولی چې یوازې ۱۲۵ دقیقې په کې قرآن کریم ته ځانګړې کړي؟!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دريیمه بېلګه

د هغه چا د شنبې ورځ چې ۲۶ مخونه یې حفظ کړي وي اوس۶۷ مخ حفظ کوي:

① وړاندینی تیاری: د ۲۷ مخ څو ځله تلاوتول (۱۵ دقیقې).
② حفظ: د ۲۷ مخ حفظ (۱۵ دقیقې).
③ د نږدې حفظ ګردان: د هغو ۲۰ حفظ شویو مخونو ګردان چې د نوي حفظ په مخ پسې شاته تړلي وي؛ له ۷ مخ څخه تر ۲۶ مخ پورې (۲۰ دقیقې).
④ د لرې حفظ ګردان: (۶ مخونه)؛ له ۱ مخ څخه تر ۶ مخ پورې (۶ دقیقې).
⑤ اونیز تیاری: هغه اووه مخونه تلاوتول چې له روان حفظ وروسته په بله اونۍ کې راځي (۱۰ دقیقې).
⑥ میاشتنی تیاری (روان تلاوت): هره ورځ دوې سپارې تلاوت کول، (که په حدر کې ډېر وخت واخلي نو ۴۰ دقیقې به واخلي).
⑦ د شپې تیاری: ۲۸ مخ تکراري تلاوتول (۱۵ دقیقې)، که شونې وي همدغه مخ (۱۰ وارې یا ۱۰ دقیقې اورېدل).

په دې ورځ باندې مطلوبه وخت: ۱۳۱ دقیقې دي (چې دغه وخت په ټوله ورځ او د لمانځه په وختونو ویشل شوی دی).

آیا یو بنده چې په ورځ کې ۱۴۴۰ دقیقې وخت لري دومره نه شي کولی چې یوازې ۱۳۱ دقیقې په کې قرآن کریم ته ځانګړې کړي؟!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورمه بیلګه د هغه چا د شنبې ورځ چې ۶۰ مخونه یې حفظ کړي وي او اوس ۶۱ مخ حفظ کوي:

① وړاندینی تیاری: د ۶۱ مخ څو ځله تلاوتول (۱۵ دقیقې).
② حفظ: د ۶۱ مخ حفظ (۱۵ دقیقې).
③ د نږدې حفظ ګردان: د هغو ۲۰ حفظ شویو مخونو ګردان چې د نوي حفظ په مخ پسې شاته ترلي وي؛ له ۴۱ مخ څخه تر ۶۰ مخ پورې (۲۰ دقیقې).
④ د لرې حفظ ګردان: (۴۰ مخونه)، له ۱ مخ څخه تر ۴۰ مخ پورې (۴۰ دقیقې).
⑤ اونیز تیاری: هغه اووه مخونه تلاوتول چې له روان حفظ وروسته په بله اونۍ کې راځي (۱۰ دقیقې).
⑥ میاشتنی تیاری (روان تلاوت): هره ورځ دوې سپارې تلاوتول، (که په حدر کې ډېر وخت واخلي نو ۴۰ دقیقې به واخلي).
⑦ د شپې تیاری: ۶۲ مخ تکراري تلاوتول (۱۵ دقیقې)، که شوني وي همدغه مخ (۱۰ وارې یا ۱۰ دقیقې اورېدل).

په دې ورځ باندې مطلوبه وخت: ۱۶۵ دقیقې دي، (چې دغه وخت په ټوله ورځ او د لمانځه په وختونو ویشل شوی دی).

آیا یو بنده چې په ورځ کې ۱۴۴۰ دقیقې وخت لري دومره نه شي کولی چې یوازې ۱۶۵ دقیقې په کې قرآن کریم ته ځانګړې کړي؟!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځمه بېلګه

د هغه چا د یکشنبې ورځ چې ۶۱ مخونه یې حفظ کړي وي او اوس ۶۲ مخ حفظ کوي

① وړاندینی تیاری: د ۶۲ مخ څو ځله تلاوتول. (۱۵ دقیقې).

② حفظ: د ۶۲ مخ حفظ (۱۵ دقیقې).

③ د نږدې حفظ ګردان: د هغو ۲۰ حفظ شویو مخونو ګردان چې د نوي حفظ په مخ پسې شاته تړلي وي؛ له ۴۲ مخ څخه تر ۶۱ مخ پورې (۲۰ دقیقې).

④ د لرې حفظ ګردان: د یکشنبې د ورځې له مخونو څخه نن یوازې یو مخ دی (۱ دقیقه).

⑤ اونیز تیاری: هغه اووه مخونه تلاوتول چې له روان حفظ وروسته په بله اونۍ کې راځي (۱۰ دقیقې).

⑥ میاشتنی تیاری (روان تلاوت): هره ورځ دوې سپارې تلاوت کول، (که په حدر کې ډېر وخت واخلي نو ۴۰ دقیقې به واخلي).

⑦ د شپې تیاری: ۶۳ مخ تکراري تلاوتول (۱۵ دقیقې)، که شونې وي همدغه مخ (۱۰ وارې یا ۱۰ دقیقې اورېدل).

په دې ورځ باندې مطلوبه وخت: ۱۲۶ دقیقې دي، (چې دغه وخت په توله ورځ او د لمانځه په وختونو ویشل شوی دی).

آیا یو بنده چې په ورځ کې ۱۴۴۰ دقیقې وخت لري دومره نه شي کولی چې یوازې ۱۲۶ دقیقې په کې قرآن کریم ته ځانګړې کړي؟!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږمه بیلګه

## د هغه چا د یکشنبې ورځ چې ۸۱ مخ حفظ کوي

① وړاندینی تیاری: د ۸۱ مخ څو ځله تلاوتول (۱۵ دقیقې).
② حفظ: د ۸۱ مخ حفظ (۱۵ دقیقې).
③ د نږدې حفظ ګردان: د هغو ۲۰ حفظ شویو مخونو ګردان چې د نوي حفظ په مخ پسې شاته تړلي وي؛ له ۶۱ مخ څخه تر ۸۰ مخ پورې (۲۰ دقیقې).
④ د لرې حفظ ګردان: په دې ورځ له ۴۰ مخونو څخه تر اوسه یوازې ۲۰ مخونه پوره شوي دي (۲۰ دقیقې) چې له ۴۱ مخ څخه تر ۶۰ مخ پورې دي، ستا به یاد وي چې تا د شنبې په ورځ ۴۰ مخونه تلاوت کړي وو چې له ۱ څخه تر ۴۰ پورې وو.
⑤ اونیز تیاری: هغه اووه مخونه تلاوتول چې له روان حفظ وروسته په بله اونۍ کې راځي (۱۰ دقیقې).
⑥ میاشتنی تیاری (روان تلاوت): هره ورځ دوې سپارې تلاوتول، (که په حدر کې ډېر وخت واخلي نو ۴۰ دقیقې به واخلي).
⑦ د شپې تیاری: ۸۲ مخ تکراري تلاوتول (۱۵ دقیقې)، که شونې وي همدغه مخ (۱۰ وارې یا ۱۰ دقیقې اورېدل).

په دې ورځ باندې مطلوبه وخت: ۱۴۵ دقیقې دي (چې دغه وخت په ټوله ورځ او د لمانځه په وختونو ویشل شوی دی).
آیا یو بنده چې په ورځ کې ۱۴۴۰ دقیقې وخت لري دومره نه شي کولی چې یوازې ۱۴۵ دقیقې په کې قرآن کریم ته ځانګړې کړي؟!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د هغه ځا د حفظ او مراجعې یا ګردان د پوره اونۍ مهالویش چې د پنځلسو سپارو حفظ یې بشپړ کړی وي

| کلا ورځ | نوی حفظ | نږدې ګردان | لرې ګردان | تیاری: ورانډې | تیاری: د شپې | تیاری: اونیز | دوامداره تلاوت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شنبه | د (۱۶) سپارې (۱) مخ | نږدې تېر شل مخونه | د ۱ - ۲ سپارې ګردان | له مخامخ حفظ ورانډې یو مخ تکرارول | له ویده کیدو ورانډې سبانی حفظ ۱۵ دقیقې تکرارول | هره ورځ د راتلونکې اونۍ اووه مخونه په غور له اورېدو وروسته تکرارول | هره ورځ ۴۰ مخونه تلاوتول |
| یکشنبه | د (۱۶) سپارې (۲) مخ | نږدې تېر شل مخونه | د ۳ - ۴ سپارې ګردان | له مخامخ حفظ ورانډې یو مخ تکرارول | له ویده کیدو ورانډې سبانی حفظ ۱۵ دقیقې تکرارول | هره ورځ د راتلونکې اونۍ اووه مخونه په غور له اورېدو وروسته تکرارول | هره ورځ ۴۰ مخونه تلاوتول |
| دوشنبه | د (۱۶) سپارې (۳) مخ | نږدې تېر شل مخونه | د ۵ - ۶ سپارې ګردان | له مخامخ حفظ ورانډې یو مخ تکرارول | له ویده کیدو ورانډې سبانی حفظ ۱۵ دقیقې تکرارول | هره ورځ د راتلونکې اونۍ اووه مخونه په غور له اورېدو وروسته تکرارول | هره ورځ ۴۰ مخونه تلاوتول |
| سه شنبه | د (۱۶) سپارې (۴) مخ | نږدې تېر شل مخونه | د ۷ - ۸ سپارې ګردان | له مخامخ حفظ ورانډې یو مخ تکرارول | له ویده کیدو ورانډې سبانی حفظ ۱۵ دقیقې تکرارول | هره ورځ د راتلونکې اونۍ اووه مخونه په غور له اورېدو وروسته تکرارول | هره ورځ ۴۰ مخونه تلاوتول |
| چهار شنبه | د (۱۶) سپارې (۵) مخ | نږدې تېر شل مخونه | د ۹ او ۱۰ سپارې ګردان | له مخامخ حفظ ورانډې یو مخ تکرارول | له ویده کیدو ورانډې سبانی حفظ ۱۵ دقیقې تکرارول | هره ورځ د راتلونکې اونۍ اووه مخونه په غور له اورېدو وروسته تکرارول | هره ورځ ۴۰ مخونه تلاوتول |
| پنجشنبه | د (۱۶) سپارې (۶) مخ | نږدې تېر شل مخونه | د ۱۱ او ۱۲ سپارې ګردان | له مخامخ حفظ ورانډې یو مخ تکرارول | له ویده کیدو ورانډې سبانی حفظ ۱۵ دقیقې تکرارول | هره ورځ د راتلونکې اونۍ اووه مخونه په غور له اورېدو وروسته تکرارول | هره ورځ ۴۰ مخونه تلاوتول |
| جمعه | د (۱۶) سپارې (۷) مخ | نږدې تېر شل مخونه | د ۱۳ او ۱۴ سپارې ګردان | له مخامخ حفظ ورانډې یو مخ تکرارول | له ویده کیدو ورانډې سبانی حفظ ۱۵ دقیقې تکرارول | هره ورځ د راتلونکې اونۍ اووه مخونه په غور له اورېدو وروسته تکرارول | هره ورځ ۴۰ مخونه تلاوتول |

(c) ketabton.com: The Digital Library

والحمد لله رب العالمين

د قرآن کریم خادم

د/ سعید ابو العلاء حمزه

ژباړه او ډيزاين

منبر

خپرندويه اداره

رمضان ۱۴۴۱هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



facebook.com/menbar2
youtube.com/Menbar

MENBAR
منبر خپرندویه اداره

twitter.com/Menbar7
https://t.me/menbar2

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**